PROPERTY OF ACKU

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۱۲۱۶
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C
دوولسم کال - دویمه دوره، ۱۲۱۶ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۹۰ گڼه د ۱۳۹۰ ل. د سلواغې ۱۶ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۳ هـ ق ربیع الاول ۱۳ مه د ۲۰۱۲ د فبروری ۵ مه

له ترکمنستان څخه هرات ته د گازو نل لیکه غځول کېږي

د هرات والي ډاکټر اود شاه سبا د یوه پلاي په مشرۍ ترکمنستان ته تللی، څو هرات ته له هغه هېواده د گازو یوه نل لیکه راوغځول شي او د دې ترڅنگ د برېښنا مزي تقویه کړي.

په داروستیو کې د هرات ښاریانو د برېښناد د کمزوري او سون موادو کمښت او قیمتي څخه د شکایت پر اساس د هرات والي "ډاکټر اود شاه سبا" د ترکمنستان ۳مخ

در حاشیهٔ نامهٔ ملا محمدعمر به قصر سفید

در این اواخر در راستای تلاش های صلح انکشافات و تحولات عجیب و غریب به چشم می خورد؛ یعنی رویدادهایی در حال وقوع است که سالیان قبل کسی تصور آنرا کرده نمی توانست؛ یکی از این انکشافات تازه، سروصداهای نامهٔ ارسالی ملا محمدعمر رهبر امارت اسلامی طالبان به ادارهٔ اوباماست که روز گذشته عنوان برجستهٔ رسانه های داخلی و خارجی را از آن خود ساخته بود. هرچند در مورد واقعی بودن هنوز شک و تردیدهایی وجود دارد؛ اما با باتوجه به تلاش های به راه افتادهٔ صلح از طریق دفتر قطر و ابراز آماده گی قبلی طالبان در این راستا بعید به نظر نمی رسد که نشانی این نامه از آدرس رهبران و مقام های دست اول طالبان به بیراهه کشانده شود. به گزارش رسانه ها، قصر سفید در سال ۲۰۱۱ نامه یی را دریافت کرده که گفته می شود، از سوی ملا محمدعمر رهبر طالبان فرستاده شده است. از سوی دیگر، اگر به محتوای این نامه نگریسته شود، نیز با مواردی همخوانی کامل دارد که اخیرا به وسیلهٔ نماینده گان طالبان در جریان مذاکرات احتمالی طالبان در قطر با نماینده گان طالبان حرف نخست این مذاکرات ص۳

پیترایوس:
پاکستان لا هم د وسلوالو مخالفانو خوندي پټنځی دی

د امریکا متحدو ایالتونو د سي آی اې یا څارگرې اداري مشر ډیویډ پیټریوس یو ځل بیا وویل، په پاکستان کې هغه وسلوال خوندي پټنځي لري چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو لپاره ستونزې جوړوي.

د ۲۰۱۲ کال د گواښونو او استخباراتو لپاره د کمېټو د ټاکلو په غونډه کې ورمه ورځ پیټریوس دا هم وویل، متحدو ایالتونو ته ضروري ده چې د پاکستان د گروهنې او وزیرتیا په پام کې نیولو سره دغه هیواد په احتیاط سره د حقاني شبکې او کوټې شورا پرضد وهڅوي.

نوموړي په ورته وخت کې د نورو لوېدیزو چارواکو په څېر پاکستان د ترهگرۍ ضد جگړه کې د لوېدیځ ملگری وباله او زیاته یې کړه، چې پاکستان د القاعده په گډون د ډېرو توندلارو ډلو له گواښ سره مخ دی او دغه هیواد د پاکستان د طالبانو غورځنگ په ځپلو کې ډېرې قرباني ورکړې دي.

د پیټریوس اپوټه ډېر کارپوهان په دې باور دي چې پاکستان د حکیم الله محسود په مشرۍ د پاکستان د طالبانو غورځنگ د ځان لپاره گواښ بولي او پرضد یې عملیات کوي، خو د هغو وسلوالو

پرضد عملیات نه کوي چې په افغانستان کې جگړه کوي.

د یوه څارگرې رپوټ له مخې د پخواني ولسمشر او د پوځ لوی درستیز پرویز مشرف پر مهال پاکستان توندلارې ډلې په ښو او بدو وېشلې دي.

د پاکستان لپاره ښې توندلارې ډلې هغه دي چې په افغانستان، ایران، هند او نورو هیوادونو کې د دغه هیواد له گټو سره سم عملیات کوي او بدې ډلې هغه دي چې په پاکستان کې عملیات کوي.

پاکستان د خپلې پالیسۍ له مخې د هغو ډلو پرضد عملیات کوي چې دغه هیواد ته گواښ دي او د هغو ډلو ملاتړ کوي چې په دغه هیواد کې دي، خو د نورو هیوادونو پرضد عملیات کوي.

یو شمېر فرانسوي سرتېرو تگاب ولسوالۍ ته شا کړه

د ۲۰۱ سېلاب قول اردو وایي، چې ورمه ورځ د کاپیسا له تگاب ولسوالۍ څخه د فرانسوي ځواکونو دوه کمپونه وتلي او خپل عمومي مرکز ته، چې په سروبي ولسوالۍ کې دی، تللي دي.

د ۲۰۱ سېلاب قل اردو ویاند ډگروال مهمان عاطف د سلواغې پر ۱۵ مه وویل، چې د تگاب ولسوالۍ له دوو مرکزونو څخه ځینې فرانسوي ځواکونه د کابل په سروبي ولسوالۍ کې خپل عمومي مرکز ته ستانه شول.

نوموړي زیاته کړه، چې په دغو مرکزونو کې یو هغه هم دی، چې څو ورځې مخکې په کې د ملي اردو د یوه سرتېري له خوا یادو ځواکونو ته مرگ ژوبله اوښتې وه.

خو عاطف وایي، چې له دغو مرکزونو د فرانسوي ځواکونو وتل له یادې پېښې سره هېڅ تړاو نه لري، بلکې دا د هغو خبرو له مخې دي، چې تېره اونۍ د افغانستان ولسمشر د خپل سفر پر مهال له فرانسوي چارواکو سره په دې اړه کړې وې.

ده د دغو مرکزونو نومونه، چې یاد ځواکونه تري وتلي، مشخص نه کړل.

د تگاب د امنیه قوماندان حاجي شاه اغا په وینا، چې ورمه ورځ ۱۰ بجې د تگاب ولسوالۍ د شمشاد غره ترڅنگ د احمدزیو سیمې له مرکز نه د فرانسوي ځواکونو یو کاروان وتلی دی.

ده وویل، چې له دغې ولسوالۍ نه یوازې له یوه مرکز څخه فرانسوي سرتېري وتلي او د هغوی وتل د څو ورځو مخکې له پېښې سره هېڅ تړاو نه لري او په خپله خوښه تللي دي.

په سیمه کې یوه عیني شاهد عتیق الله هم وویل، چې ورمه ورځ په احمدزیو سیمه کې د لکې تېرې له کمپ څخه بهرني سرتېري ووتل.

د ملي اردو یو سرتېری طارق وایي، چې د دوی او فرانسوي ۳مخ

په افغانستان کې ملکي مرگ ژوبلې ډېرېږي، مسوول څوک دي؟ ۲

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د افغانستان د سولې په بهیر کې د پاکستان رول، تر کومه بریده؟

له څه مودې راهیسې په افغانستان کې د سولې خبرې په نړیواله کچه پراخې او ګړندۍ شوې دي، چې له دې جملې نه په قطر هېواد کې د طالبانو لپاره د رسمي دفتر پرانیستل او له طالبانو سره د امریکا مخامخ خبرې یې غوره او څرګنده نمونه بللی شو. د دې ترڅنګ په سعودي عربستان کې هم له مخالفانو سره د سولې د خبرو اترو په هکله راپورونه ورکړل شوي او ویل کېږي چې افغان دولت به په سعودي عربستان کې له طالبانو سره خبرو اترو ته کېښني. په هر صورت دا چې دا سولې خبرې اترې څنګه، ولې او په څه ډول ترسره کېږي؟ دا بېله مسئله ده، خو مهمه خبره داده، چې د سولې په بهیر کې د پاکستان رول تر کومه بریده دی او ایا د پاکستان له رول پرته هم سوله شونې کېدای شي؟ ځکه د سولې په اړه په روانو خبرو کې چې په قطر کې پیل شوي، تر دې مهاله افغانستان او په تېره بیا پاکستان ته موکه نه وه ورکړل شوې، چې په دې خبرو اترو کې د یوه مهم اړخ په توګه برخه واخلي او نه هم پاکستان تر دې مهاله پورې په دې اړه کوم رسمي دریځ غوره کړی و، بلکې تر ډېره بریده خبرې د وسوالو مخالفانو او لوېدیزو چارواکو ترمنځ محدودې کړل شوې وې، خو په همدې حال کې وروستي راپورونه وایي چې ټاکل شوې، د سلواغې پر ۱۷مه د پاکستان لومړی وزیر یوسف رضا ګیلاني د افغانستان د سولې پروسې په لړ کې د قطر له چارواکو سره خبرې وکړي او دغه هېواد ته سفر وکړي. دا خبرې یوې امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوست د پاکستانیو رسنیو په حواله کړې دي او زیاته کړې یې ده، چې ګیلاني به په دغه سفر کې د قطر له چارواکو سره د افغانستان د سولې د پروسې او په دغه هېواد کې د وسلوالو طالبانو د دفتر په اړه خبرې وکړي. پاکستاني چارواکي په داسې حال کې دوحې ته سفر کوي، چې تېره اونۍ د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیره حنا رباني کهر کابل ته سفر کړی و او د سولې د روان بهیر په اړه یې له افغان چارواکو سره له خبرې اترې کړې وې او په دې اړه یې د خپل هېواد بشپړه همکاري او مرسته اعلان کړې وه. همداشان تر دې وړاندې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ګراسمن هم د سولې د روان بهیر په اړه د افغانستان او پاکستان هېوادونو د دریځ معلومولو لپاره سیمې ته سفر کړی و او ښايي د ده د سفر په پایله کې دغو هېوادونو ته د سولې په برخه کې د ګډون موکه برابره شوې وي.

په عمومي توګه ویلی شو، چې په افغانستان کې د سولې روان بهیر د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه د پاکستان له رښتونې همکارۍ او مرستې سره مستقیم تړاو لري او باید ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا پاکستان ته د سولې د قضیې د مهم اړخ په توګه وکتل شي او د قضیې د یوه مهم اړخ په توګه ورسره خبرې او عمل شي او له دې پرته ښايي په افغانستان کې د سولې روان بهیر له خورا خنډونو او سترو ننګونو سره مخ شي.

په افغانستان کې ملکي مرګ ژوبلې ډېرېښت، مسوول څوک دي؟

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازولۍ یوناما له خوا راټولې شوې شمېرې ښيي، چې د افغانستان د تیر میلادي کال په تاوتریخوالي کې تر ټولو ډېر ولسي وګړي وژل شوي.

په پلازمېنه کابل کې د ملګرو ملتونو له خوا په خپاره شوي راپور کې ویل شوي، په ۲۰۱۱ میلادي کال کې ۳ زره ۲۱ ولسي وګړي وژل شوي، چې دا شمېره د ۲۰۱۰ کال په پرتله اته سلنه ډېره ده: ''یونما په ۲۰۱۱ کال کې د ۳۰۲۱ ملکي وګړو مړینه ثبت کړې ده چې دا د ۲۰۱۰ کال پرتله اته سلنه ډېروالی ښيي. د تېر کال په څېر ددغو کسانو په مړینه کې تر ډېره وسله وال مخالفین پړه بلل کېږي. په ۲۰۱۱ کال کې د وسلوالو مخالفینو له خوا د وژل شویو ملکیانو شمېر ۲۳۳۲ ښودل شوی چې تر هغه د مخکیني کال په تناسب څوارلس سلنه ډېروالی څرګندوي. په دې توګه په تیر میلادي کال کې د یادي شوي مړینې ۷۷ سلنه مسولیت ددوی په غاړه دی.''

راپور کاږي، ډېری وژل شوي ولسي افغانان د طالبانو په ګډون د وسلوالو له خوا وژل شوي دي.

راپور د ډېری وژل شوو ولسي وګړو پړه پر اورپکو اچولې ده.

راپور له دې شمېرې د ۷۷ سلنې مړینې پړه پر وسلوالو مخالفینو او څوارلس سلنه پر دولت پلوه ځواکونو اچوي، خو وایي نهه سلنه مړینې د جګړې د خواوو هېڅ لوري ته منسوب نه دي.

په کابل کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي یان کوبیش پر وسلوالو مخالفینو غږ وکړ چې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي په برخه کې دې پر خپلو ژمنو ودرېږي: " په دې روانه او زیاتېدونکې جګړه کې د افغان ماشومانو، ښځو او سړو وژنه دوام لري. تر ډېره ولسي افغانان د جګړې قرباني شوي دي. په جګړه کې ښکېلې غاړې باید د ولسي افغانانو ژوند ته پام وکړي."

دا پنځم کال دی چې په پرله پسې ډول د یوناما په راپورونو کې په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلې کچه تر مخکیني کال یې لوړه ښودل کېږي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي په خپل کلني راپور کې وویل چې دا مرګ ژوبله تر ډېره په جګړو کې د تکتیکونو د بدلون له کبله رامنځ ته شوې.

د یونما په باور، په دغو کسانو کې تر ټولو ډېر ښځې او ماشومان قرباني شوي دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ادارې د بشري حقونو د څانګې مشره جورجیت ګاګنان وایي د ۲۰۱۰ کال پر تله د ۲۰۱۱ کال یه اوږدو کې د ملکي وګړو د مړینې کچه اته سلنه ډېره شوې ده.

په داسې حال کې چې د یونما په نوي راپور کې د یاد شوي مړینې په برخه کې څوارلس سلنه دولت پلوي ځواکونو ته منسوبېږي، خو همدا کچه د تېر کال پرتله څلور سلنه کموالی ښيي.

دغه اداره ددې کموالي لامل دا ښيي چې دغو ځواکونو تر ډېره په خپلو بریدونو کې د ملکي خلکو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړی او هم یې ددوی په خبره خپل هوایي بریدونه په داسې سیمو کې چې د ملکي تلفاتو احتمال په کې ډېر وو، کم کړي دي.

یونما وایي په هغو وژنو کې چې د دولت وسلوالو مخالفینو ته منسوبېږي، ډېری یې د سړک غاړې ته د ایښودل شویو ماینونو او هم د خونړیو ځانمرګو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي.

راپور د ځانمرګو بریدونو له کبله د قربانیانو شمېر ۴۵۰ ښيي چې د ۲۰۱۰ کال پرتله اتیا سلنه لوړوالی ښيي.

سره له دې چې وسله والو مخالفینو په وار وار ویلي چې د ملکي مرګ د مخنیوي په موخه به د سړک غاړې ته له ماینونو او نورو چاودېدونکو توکو څخه کار نه اخلي، خو ښاغلی کوبیش وایي چې مخالفینو پر خپله دغه ژمنه هغسې چې تمه یې وه عمل نه دی کړی: ''دا زموږ ځواب او غوښتنه ده چې په خپلو ویناوو ودرېږئ. که تاسې د ملکي وژنو د مخنیوي لپاره د چاودېدونکو توکو او ماینونو په ایښودلو بندیز لګوئ او اعلامیې ورکوئ، نو خپله خبره عملي کړئ او ځانمرګي بریدونه ودروئ، ځکه په دې پېښو کې د جګړې مقابل لوري ته زیان نه اړوئ، بلکې ملکي وګړي وژنئ.''

د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې هم ګڼ ولسي وګړي وژل شوي. یونما پر وسلوالو مخالفنو سربېره افغان حکومت او نړیوالو امنیتي ځواکونو ته هم سپارښتنه کړې چې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي ددغه ګډ هدف تر سره کېدو لپاره دې اړین تدابیر ونیسي، په خپلو کارونو کې دې روڼوالی راولي، د عملیاتو دمخه او وروسته دې له سیمه ییزو چارواکو سره معلومات شریک کړي.

په تېرو پنځو کلونو کې په وسله والو جګړو کې د وژل شوو ملکي وګړو شمېر کال په کال ډېر شوی چې له ۲۰۰۷ کال راهیسې دا شمېره ۱۱۸۶۴ ته رسېږي. د ملکي وګړو مرګ ژوبله هغه څه دي چې په دې وروستیو کلونو کې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د اختلاف ټکی ګڼل کېږي او ددوی ترمنځ یې اړیکې خړې پړې کړې دي.

یو شمېر فرانسوي سرتېرو تگاب ...

سرتېرو ترمنځ هېڅ کوم مخالفت نه شته، خو له بده مرغه، څرنگه چې کله ناکله د دوی او بهرنیو ځواکونو ترمنځ د مرگ ژوبلې پېښې رامنځ ته کېږي، د مخالفینو تر منځ هم دغه ډول پېښې رامنځ ته کېږي.

خو د سیمې اوسېدونکي وايي، چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره به په سیمه کې یو ځل بیا نا امنۍ زور واخلي. د ایساف ځواکونو په دې اړه تر اوسه څه نه دي ویلي.

فرانسې د هغې پېښې له امله، چې څو ورځې مخکې یې په یاده ولسوالۍ کې سرتېرو ته مرگ ژوبله واوښته، له ټاکلې مودې مخکې د خپلو سرتېرو د ایستلو اعلان وکړ، خو وروسته یې تصمیم بدل شو او له افغانستان سره یې د مرستو او تر ټاکلې مودې پورې د سرتېرو د پاتې کېدو ژمنه وکړه.

له ترکمنستان څخه هرات ته ...

د مارې د والي په غوښتنه هغه هېواد ته سفر وکړ، چې د هرات د سوداگرۍ، برېښنا، نفت، گازو، فواید عامې بهرنیو اړیکو ریاست استازي او څه نور مامورین ورسره همسفره دي. د ولایت د مرستیال اصیل الدین جامي په وینا، اساسي موخه یې د بریښنا د مزي لا تقویه کېدل او له ترکمنستان څخه د گازو د یوې نل لیکې راغځول دي.

هرات ته اوس مهال ترکمنستان او ایران څخه ۹۵ میگاواټه وارداتي بریښنا مزي راغځیدلي، خو کارپوهان وايي، چې دغه ښار، نژدې ۳۰۰ میگاواټه بریښنا ته اړتیا لري.

د هرات د ولایت ویاند محي الدین نوري وايي، د گازو د نل لیکې لپاره په هرات کې د ترکمنستان قونسل تیار او د ده په وینا افغان ولسمشر هم موافقه ورسره کړې ده.

اوسمهال په هرات کې بریښنا په نوبتي ډل کورونو ته ویشل شوې، چې قوت یې ډېر کم او خلک وايي، چې د بریښنایي وسایلو په سوځېدو سره یې ډېر تاونونه گاللي.

که په رښتیا هم له ترکمنستان څخه د گازو د نل لیکې په راتگ سره د خلکو کورونو ته د گازو پایپونه تېر شي، له یوې خوا به خطرونه کم او بل طرف به یې د بریښنا په صرفې سره اقتصادي پرمختگ کړی وي.

که څه هم د هرات د والي ویاند دغې پروژې لگښت او دا چې څوک به یې پر مخ بیايي، جزیات ورنه کړل، خو د پروژې په ساده گي او کم لگښت یې ډاډ لاره.

باید ووایو، چې د گازو دغه نل لیکه د ټاپې له لیکې کوم چې د افغانستان له لارې به له ترکمنستان څخه پاکستان غځېږي جلا ده، که چېرې د گازو نوې نل لیکه وغځول شي، د هرات ښاریانو لپاره به ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.

در حاشیهٔ نامهٔ ملا محمدعمر به قصر ...

را می سازد. در این نامه در بارهٔ رهایی زندانیان طالبان درخواست شده. البته این موضوع در گفتگوهای صلح میان ادارهٔ رییس جمهور امریکا و گروه طالبان، یکی از مسایل خیلی اساسی نیز می باشد. گفته می شود که بحث ها در قصر سفید، پس از این پیام یا نامهٔ ملامحمدعمر، آغاز شده و اصل مباحثه این است که آیا این نامه واقعاً از جانب رهبر طالبان فرستاده شده و یا شخص دیگری به نام او نامه را ارسال کرده است. به باور رسانه های غربی، این نامه برای امریکا که در تلاش پایان دادن به جنگ افغانستان است، خیلی اهمیت دارد. یک مقام ادارهٔ اوباما که از گرفتن نامش خودداری کرده، به خبرگزاری رویترز گفته است: اینکه ما در مراحل مختلف مصالحه دخیل هستیم، پیام های زیادی برای ما رسیده است که همه می گویند: مقام های ارشد گروه طالبان هستند.

در این نامه که گفته می شود، از سوی رهبر طالبان فرستاده شده، گروه طالبان بی حوصله نشان داده شده اند؛ زیرا قصر سفید تا حالا پنج تن از افراد آنها را از زندان گوانتنامو رها نکرده است.

در همین حال خبرگزاری رویترز می نویسد: مقام‌های امریکایی روی این موضوع غور می کنند، تا بر اساس نیت نیک، زندانیان طالبان را به قطر منتقل سازند و صلاحیت آنها را به حکومت افغانستان بسپارد.

با این اقدام، به نظر می رسد که راه گفتگو های آینده میان حکومت افغانستان و طالبان هموار خواهد شد. ماه گذشته طالبان اعلان کردند که با گشایش یک دفتر سیاسی در قطر توافق دارند.

اما اینکه طالبان واقعاً می خواهند، تا در گفتگو های صلح شرکت کنند و یا اینکه تنها خواهان رهایی زندانیان خود هستند، تا هنوز مشخص نیست.

یک خبرگزاری غربی در این مورد می نویسد: این روشن نیست که نامهٔ پارسال ملا محمدعمر، بالای تلاش های صلح که از سوی مارک گراسمن نمایندهٔ خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان به پیش برده می شود، چه تاثیری خواهد داشت.

مقام های ادارهٔ بارک اوباما می گویند: آنها تردید دارند که این نامه توسط ملا محمد عمر نوشته شده باشد؛ زیرا در آن امضا دیده نمی شود.

به گفتهٔ آنها، با این همه، مسایلی در نامه تذکر یافته که در گذشته ها، نماینده گان طالبان و یا مذاکره کننده گان این گروه، به امریکا گفته بودند.

مقام‌های ایالات متحده می گویند: روی انتقال زندانیان طالبان توافق نکرده اند و در همین حال، قصر سفید با مخالفت اعضای کانگرس امریکا رو به رو است. اعضای کانگرس می گویند: طالبان در گفتگوها قابل اعتماد نیستند و به باور آنها، پس از رهایی رهبران طالبان از زندان، این گروه دوباره مشغول جنگ خواهد شد.

ولی اکثر کارشناسان به این باور اند که با کشیده شدن پای امریکا در این مسیر، اکنون تا اندازه یی باور طالبان بر مذاکرات نیز حاصل شده است؛ به نظر آنها، اگر این نامه تثبیت گردد که از سوی ملامحمد عمر ارسال گردیده، این یک تحول مثبت دیگری در این راستا خواهد بود و آیندهٔ صلح را بیش از پیش امیدوار می سازد.

سندیگال: من می ترسم افغانستان مانند ویتنام ...



تمام نگهبانان ما نالش کنان امده به انان گفتند که به خانه های خود بروید و انها جرات نکردند که برای چندین ماه دوباره به کار خود برگردند. سرانجام وقتیکه "اتحادیه اروپا" حمایت خود را برای کمک به افغانستان قطع کرد ما نیزکلینیک را تسلیم نمودیم.

اما بعد از حادثه ۱۱ سپتمبر ما یک تیلفون از مقام وزارت صحت افغانستان دریافت نمودیم که تقاضا نمودند تا دوباره به کابل بیاییم و کلینیک خود را فعال نماییم.

سوال – آیا این بیشتر یک علاقه فامیلی بوده است؟

جواب-بلی، کلانترین دخترم برای چندین سال در کابل زنده گی می کرد و این موسسه خیریه را اداره می نمود، سپس دختر جوانتر من "کارلوتا" قبل از اینکه یک ژورنالیست شود برای مدتی در این موسسه کار می کرد. او حالا خبرنگار نیویارک تایمز در بخش افغانستان و پاکستان است.

سوال – آیا بخاطر دارید که در طول این مدت به چه تعداد از مردم را کمک کرده اید؟

جواب-ما حد اقل برای ۲۰ هزار نفر پا های مصنوعی ویا وسایل کمکی برای حرکت معیوبان درست نموده ایم. همچنان بیش از ۵۰ هزار مریض را فیزیوتراپی و معالجه فزیکی نموده ایم. بعد ها در قسمت تداوی اطفال تولد شده کج پا و جابجایی سرین های بیجا شده کمک کرده ایم.

سوال – در حالیکه شما درباره تاسیس نهاد خیریه اطمینان نداشتید چی وقت اساساً بنیاد خود را بنا نهادید، قبل از اینکه بحیث ژورنالیست عاطفی به کار مشغول شوید؟

جواب-بلی من این اقدام را کردم، و من تا هنوز به آن مطمین نیستم. من بعد از آنکه کتاب اول خود را نوشتم به این کارمبادرت ورزیدم. لیکن من وقت داشتم که از ایجاد آن خود داری نمایم زمانیکه من به یقین بعضی قصه های انتقامجویانه را به منظور جلوگیری این کلینیک شنیدم.

سوال – آیا شما برای مصروفیت های خط مقدم جبهه دلتنگ نمی شوید؟

جواب-نخیر نمی شوم، مگر اینکه شما یک شخص بسیارعجیب باشید که به حیث یک ژورنالیست از جنگ لذت ببرید. شما آنجا هستید که فقط یک واقعه را بازگو نمایید. جنگ یک خطر خونین است، و من اینرا به بسیار خوبی میدانم زیرا من در آنوقت به قندهار رفتم لیکن من احساس کردم نظربه عمر خود که یک کمی مسن بودم آنرا تحمل کردم. این اقدام برایم بخاطری یک موضوع بسیار داغ بود که همراه مجاهدین در سال ۱۹۸۱ برای مدت ۱۲ روز مستقیم در کوه ها قدم زدم وحالا وجودم برای انجام این کار مناسب نیست.

سوال – آیا شما می گویید که شما در روز های طلایی ژورنالیزم درتلویزون کار میکردید؟

جواب-من فکر میکنم که واقعاً چنان بود. البته ما همیشه به کمبود پول مواجه بودیم. این مفکوره همیشه در ذهنم خطور می کرد که" آیا ما توانایی آنرا داریم که پیش برویم"؟ من صحبت محرمانه نفرت انگیز گم شدن را برای چند روز بیاد دارم، بخاطری که کدام شخصی ذخیره پولی مصارف را با خود برده بود. چیزی که ما انجام دادیم مطابق دلخواه ما بود، اکرچه همراه با اوقات تلخی ها بود. درحالیکه آی تی ان بصورت متواتردر آن هفته در جمله ده تلویزون برتر بود. مردم واقعاً می خواستند که این تلویزون را تماشا نمایند و ببینند که در جهان چی می گذرد. حتا اگر اخبار اغلباً بسیار تاثر انگیز می بود. ولی مطمین نیستم که حالا هم، چنین است یا خیر؟

سوال – اگرچه من مطمین هستم که شما بسیار کتابهای دیگر برای نوشتن دارید، ولی من حدس می زنم که ممکن این سخن آخر شما در بارهٔ افغانستان باشد؟

جواب-من تصور کرده نمی توانم که در مجموع کدام کتاب دیگر در این باره بنویسم. اگرچه یقیناً فصل هایی در این حکایت است که تا هنوزنوشته نشده است.

سوال – آیا تا هنوز برای پایان خوش این ماجرا امیدوار هستید؟

جواب-آه، هرکسی باید امید داشته باشد. پاکستانی ها ضرورت دارند که ترغیب و وادار شوند که این موضوع بسیار به نفع شان است که قلباً و صمیمانه خود را همراه غرب متحد بسازند اگر این چنین اتفاقی ممکن شود، بعداً کی می داند؟

سندیگال: من می ترسم افغانستان مانند ویتنام نشود!

مصاحبه از: Tim Adams ——— منبع: The Observer ——— برگردان: روزنامه اراده

Henderson Alexender Gall مشهور به سندیگال(Sandy Gall) در اول اکتوبر سال ۱۹۲۷ میلادی در شهر Penang مالیزیا چشم به جهان گشود. وی یک ژورنالیست ورزیده، مولف و سابق راپورتر و گوینده اخبار تلویزون ITN است که بیشتر از ۵۰ سال عمر خود را در کار های ژورنالیستیکی سپری کرده است. در اوایل سال ۱۹۶۳ به حیث خبرنگار خارجی به تلویزون آی تی ان پیوست و اولین ژورنالیست این تلویزون بود که خبرهای جنگ ویتنام را گزارش میداد. او همچنان اخبار افغانستان را به مناسبت های مختلف گزارش داده و چندین کتاب را در باره افغانستان به رشته تحریر در آورده است. در زمان اشغال افغانستان توسط روسیه سابق سه فیلم مستند نیز تهیه نموده است که بعد ها دو فیلم آن در BAFTA برای جایزه نامزد شد.

موصوف طی گفت و شنودی که همراه " تم آدمز" خبرنگار آبزرور انجام داده از سرگذشت خود در افغانستان و کلینیک فامیلی خویش صحبت می نماید.



سوال- کتاب جدید شما "جنگ بر ضد طالبان" واقعاً بخش سوم مصروفیت طویل شخصی شما با افغانستان است که از سال ۱۹۸۱ شروع شده، آیا این یک کوششی از "محبت" شما است؟

جواب- بلی این یک طریقی از علاقه من است، من واقعاً این پلان را نداشتم، لیکن تصور می کنم که این کار با دیدن تابوت هایی که ازطریق" وتون بسیت" دو باره می آمدند، شروع شد. این حادثه مرا وادار ساخت که سعی نمایم تا تشریح دهم که این انسانها برای چی می جنگنند و چرا تمام این چیز ها به غلط رفته بود؟

سوال- باید چنین احساس شود که شما نصف عمر خود را صرف نموده و به ویژه همراه این گوشه یی از دنیا مصروف بوده اید؟

جواب- بعض اوقات چنین معلوم میشود. من درزمان اشغال افغانستان توسط روسها همراه مجاهدین در " آی تی ان" کار میکردم و همچنان در زمان جنگ های داخلی که به تعقیب آن به وقوع پیوست آنجا بودم که از بعضی جهات خیلی ها مخرب و ویرانگر بود.

لاکن من در آنوقت یک موسسهٔ خیریه بنام " تقاضای افغانستان ازسندیگال" را تاسیس کردم که این موسسه برای کسانی که در اثر انفجار ماین معیوب می شدند کمک می کرد.

بنابران من با گذشت ۳۰ سال هر از گاهی هر سال از افغانستان دیدن می نمودم.

سوال- اگر شما کمی بر احساس خود غلبه نموده بگویید آیا جنگ در مقابل طالبان به اشتباه رفت، به یک کلمه این چنان معلوم خواهد شد، مانند: عراق؟

جواب- بلی، من فکر می کنم که این درست است. من فکر نمی کنم کسی توقع میداشت که طالبان چنین مقاومت نمایند. بناء در سال ۲۰۰۳ امریکا ظاهراً تمام دستگاه استخباراتی و ستلایت منابع جاسوسی خویش را از افغانستان خارج و به عراق انتقال داد. آنها واضحاً معتقد بودند که به امور افغانستان رسیده گی نموده اند.

سوال- یکی از اهداف این کتاب عقیده جانشینی غلطی بود که بریتانیا و امریکا در پاکستان داشت، که فعالیت خدمات استخباراتی اش هویدا است، در حالیکه درمطالعه شما موجودیت حمایت طالبان در سراسر پاکستان مشهود بود؟

جواب- چندین شخص نظامی برایم گفتند که ما یک فکر غلط در قسمت رسیدن ما به پاکستان داشتیم. چنین معلوم میشد که وزارت خارجه، پاکستان را به حیث متحد قدیمی خود می دید.

هر گاه اگر امریکایی ها پول را به پاکستان قطع نمایند ممکن درمدت چند ماه این موضوع به پایان برسد.

سوال- از بعض جهات دیگر، این کتاب یک تاریخ مختصر نظامی است که توسط سیاستمداران گذاشته شده، آیا مناسب خواهد بود که گفته شود همدردی شما همراه قوای مسلح مناسب بود؟

جواب- بلی، خوب من فکر می کنم که قسماً چنین است زیرا که من نتوانستم تا با بسیاری از سیاستمداران تماس برقرار نمایم که با من صحبت نمایند.

البته من برای تونی بلیر، جان رید و سایرین نامه نوشتم ولی متاسفانه از هیچ کدام آنها جواب نگرفتم. بعد ها در سال گذشته که جایزه "سی ام جی" برایم تعلق گرفت " چیری بلیر" برایم یک نامه تبریکی نوشت؛ اگرچه من با او معرفت نداشتم. من برایش دوباره نامه فرستادم و از او خواهش نمودم اگر ممکن باشد تقاضای مرا برای مصاحبه با شوهرش در میان بگذارد، او سعی نمود لیکن این تقاضا وقتی شنیده شد که عنوان فرعی کتاب من " چرا تمام اینها غلط رفت" به چاپ میرفت، من فکر می کنم که ان موضوع خاتمه یافت.



سوال- شما از او چی خواسته بودید؟

جواب- همان چیزیکه من از هر کدام خواسته بودم. چطور ما این درهمی و برهمی را از روی این کره خاکی ختم کرده میتوانیم؟

سوال- حالا اگر عساکر خارج شوند وما کشور را ترک نماییم آیا این کشور را نسبت به گذشته بهتر خواهیم یافت؟

جواب- بهر حال آنها میگویند که هیچکس چنین مفکوره یی ندارد که چی اتفاق خواهد افتاد. اگر انها به سرعت عساکر را خارج نمایند. من ترس دارم که این کشور ممکن مانند ویتنام شود. زمانیکه سایگون سقوط کرد من در ویتنام بودم. امریکایی ها در باره برقراری صلح با یک تعداد محدود بصورت سردستی مذاکره نمودند زیرا عساکر قبلاً رفته بودند.

شما توقع خواهید داشت که انها بار دیگر خود را در چنین موقعیتی قرار ندهند؟

سوال- کلینیک خیریه شما در کابل در اوقات بسیار سخت و دشوار یک تعداد را نجات داد، کدام دوره به نظر شما بد ترین دوره بود؟

جواب- زمانی که طالبان در قدرت بودند یک دوره بسیاردشوار بود. انها می خواستند که همه چیز را اداره کنند. ما در کلینیک کارمندان قشر اناث داشتیم که کار می کردند، یک روز

ص ۳

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

برخورد مسلحانه: در جریان برخورد مسلحانه و اشغال، پولیس باید درصورتی که بشکل رسمی داخل نیروهای مسلح نباشد، جزء افراد غیر نظامی شمرده شود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com
معاون: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنک، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Farhat yar
Editor: Khadem Ahmad
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com